محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۶/۱۴

په بدو کې د نجونو ورکول، د جنایت تداوم

نچوړ

په پښتني ټولنه کې کله چې څوک قتل کوي، د هغه خور، لور، وربره یا د کورنۍ بله نجلۍ په بدو کې ورکول کېږي چې دغه دښمني ظاهراً په دوستۍ بدله شي. دا د قبیلوي دود له مخې کېږي او که داسې و نه شي، د مقتول کورنۍ به غچ اخلي او قاتل او یا د هغه د کورنۍ بل غړی به وژني. د دې رواج منطق دا دی چې د لا زیاتو مرګونو مخه به نیسي او د غچ اخیستني پېښې به کموي. خو په به بدو کې د نجونو ورکول پر دې سربېره چې د نجلۍ پر شرعي، انساني او مدني حقونو تېری دی، د قتل او قتال په کمولو کې هم چندانې مرسته نه کوي بلکې نارینه بې باکۍ او قتلونو ته هڅوي ځکه چې دلته نر د خپل جزا نه ګالي نو نور نران هم قتلونو ته زړه ښه کوي.
کلیدي کلمې: **بد، جرم، خشونت، نرخ، پور، قانون، حق.**

مقدمه

په بد کې د نجونو ورکول د وروسته پاتې قبیلوي ټولنې دود دی. پخوا چې دولتونه کمزوري وو او د خپلې خاورې پر ټولو برخو یې واکمني نه چلېده او د مختلفو حقوقي مسایلو له پاره تدوین شوي قوانین نه وو؛ نو خلکو د خپلو ورځنیو چارو د سمبالښت او د نسبي نظم د ټینګولو په خاطر داسې دود دستور رامنځته کړ چې نرخ، تړه، تېره، ... بلل کېږي. له بلې خوا دا چې د ژوند د غځولو له پاره امکانات محدود او کم وو او د خلکو اړتیاوې ډېرې نو تل دغه خطر موجود و چې انسانان دې یو پر بل تېری وکړي او د بل حق په زور ولجه کړي. نو په داسې حالت کې که هر څوک یوازې وي، هغه به کمزوری وي او هر څوک به په اسانه د هغه شته لوټلی شي خو که وګړی له نورو سره په یوه نسبتاً لویه ټولنه کې ژوند وکړي، سر او مال به یې خوندي وي. قبیلې په همدې خاطر رامنځته شوې دي چې د خپلو وګړو ګټې وساتي. که څوک یوازې وي، هرڅوک به وربانديې برید وکړي خو که قبیله ورسره ولاړه وي، څوک زړه نه شي ښه کولی چې سر او مال ته یې تاوان واړوي. نو قبیله که د وګړي حقونه خوندي کوي، ځینې مکلفیتونه هم پرې تحمیلوي چې دا هماغه د قبیلې دود دستور، نرخ، رواج، تېره او نور شیان دي.
خو کله چې یوه ټولنه د مدنیت خوا ته ځي، حکومتونه پیاوړي کېږي، د عدالت د تأمینولو له پاره قضایه قوه رامنځته کېږي او د هر وګړي حقونه او وجایب په قوانینو کې تثبیتېږي نو نور د قبیلوي قانون (نرخ، رواج، دود، دستور) ته اړتیا نه پاتې کېږي. له بده مرغه پښتانه سره له دې چې په یوویشمته پېړۍ کې اوسېږي، لا هم د مدني قوانینو پر ځای، هماغه قبیلوي قانون عملي کوي. په دې منځ کې ځینې قبیلوي قانونونه له اسلام، انسانیت او بشري حقونو سره په ټکر کې دي. یوه بېلګه یې همدا په بد کې د نجونو ورکول دي.

موضوع
بد څه دی؟

کله چې په پښتنو کې څوک قتل کوي، د مقتول کورنۍ باید غچ واخلي. خو که د قاتل او مقتول د کورنۍ تر منځ روغه وشي، قاتل له مرګه خلاصېږي. د قتل پور یا نغدې پیسې دې یا نجلۍ. که نجلۍ په بد کې ورکړل شي، بیا د هغې ولور په هماغه پیسو کې مجرا کېږي. که نجلۍ ګټلکه (پېغله) وي نو د پور دویمه برخه او که نجلۍ روڼۍ (تې خوره) وي، د پور درېیمه برخه ګرځول کېږي او پاتې یې د متقول کورنۍ ته ورکول کېږي. عموماً کله چې قتل کېږي نجلۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په بد کې ورکول کېږي ځکه چې د قتل پور که په پیسو پرې شي، دا پیسې که څومره هم زیاتې وي بیا هم یو پښتون له غچ اخیستنې نه ایساروي. [۱]

نجونې ولې په بد کې ورکول کېږي؟

پښتانه فکر کوي چې د بدیو د ختمولو غوره لاره دا ده چې د مقتول کورنۍ ته د قاتل د کورنۍ یوه نجلۍ ورکړل شي. که دا کار و نه شي، د مقتول خپل خپلوان به غچ اخلي او یا به قاتل او یا د هغه د کورنۍ بل غړی به وژني. له دې سره به دا د غچ اخیستنې چاره نسلونه نسلونه پسې غځېږي او ډېر قتلونه به کېږي. خو تجربه یې را ښیي چې په بدو کې د نجونو ورکول سره له دې چې په ځینو موردونو کې به د غچ اخیستنې پېښې راکمې کړي خو دا کار د نجلۍ پر شرعي، انساني او مدني حقونو تېری دی. له بلې خوا داسې دلیلونه او شواهد هم شته چې دغه کار د بدیو او جنایت د تداوم سبب کېږي. دا ځکه چې قاتل هېڅ تاوان نه کوي، هغه د خپل جرم جزا نه ګالي. دلته به د دې موضوع حقوقي، انساني اوشرعي اړخونه را وسپړو او بیا به یې زیانونه، پایلې او نتیجې وګورو.

د مسألې حقوقي او شرعي اړخ

په شرعي لحاظ د نکاح له پاره ایجاب او قبول لازمي دي یعنې دواړه خواوې باید په خپله خوښه نکاح ومني او له بلې خوا پر دوی هېڅ ډول جبر او اکره نه وي. که چېرې نکاح په اکره سره شوې وي، فسخ او بطلان یې مطرح کېږي. [۳] خو کله چې نجلۍ په بد کې ورکول کېږي، معمولاً نه پوښتل کېږي چې ته رضا یې که نه. اکثراً نجلۍ په جبر نکاح کېږي چې په شرعي لحاظ جواز نه لري. له بلې خوا د نابالغې نجلۍ ورکول هم غیر شرعي کار دی او مخکې مو یاده کړه چې روښۍ (تې خوره) نجلۍ هم په بد کې ورکول کېږي.
همدارنګه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په ۲۳ ماده کې راغلې ده: د نکاح او د کورنۍ د جوړولو حق ټولو نرانو او مېرمنو ته چې د واده عمر ته رسېدلې وي، منل شوی دی. هېڅ نکاح د دواړو خواوو له بشپړې خوښې پرته نه تړل کېږي. [۲] دا چې نجونې اکثراً له خپلې خوښې پرته په بد کې ورکول کېږي، د دې مادې خلاف عمل دی او د افغانستان دولت چې دغه میثاق یې منلی دی، مکلف دی چې تطبیق یې کړي.
د افغانستان د اساسي قانون ۲۶ ماده د جرم د فردیتوب په اړه وایي: جرم یو شخصي عمل دی. د متهم تعقیبول، نیول یا توقیفول او پر هغه د جزا تطبیق بل هېچا ته سرایت نه کوي. [۴] خو دلته جرم یو چا کړی وي خو جزا یې بل ته ورکول کېږي. قتل پلار، تره، ورور یا د کورنۍ بل نر کړی وي خو جزا یې نجلۍ ته ورکول کېږي ځکه هغه له داسې چا سره واده ته مجبوره کېږي چې پخپله یې نه غواړي.

زیانونه

۱. کله چې یوه نجلۍ په بد کې ورکول کېږي ځینې اساسي او بشري حقونه یې تر پښو لاندې کېږي. هغه له خپلې خوښې پرته په داسې کور کې واده کېږي چې دې ته د دښمنې په سترګه ګوري. د خسر په کور کې له هغې سره تبعیض کېږي او تر نورو ښځو په ټیټه سترګه ورته کتل کېږي. اکثره وخت د کور درانه کارونه او هغه چارې چې د کور نورې ښځې ورته زړه نه ښه کوي، په همدې ښځې کېږي. له بلې خوا ممکن په خوراک او جامو کې هم تبعیض ورسره وشي. دا هر څه د ښځې اروا ځپي.
۲. هر څوک غواړي او حق یې دی چې په واده کې یې خوښې او خوشحالۍ وي، ساز وي، اتڼونه وي، نکریزې وي او نور مراسم ترسره شي خو هغه نجلۍ چې په بد کې ورکول کېږي، له دې شیانو محرومېږي. په پښتنو کې «سپین پایځې» هغې ناوې ته ویل کېږي چې د واده له مراسمو، ساز، او ولور پرته چا ته ورکول کېږي. [۱] داسې نجونې ځانونه حقیر ګڼي او د حقارت احساس یې ټول عمر ځوروي.
۳. اکثراً په بد کې د ورکړل شوې نجلۍ ټول ژوند خرابېږي ځکه چې خسرګنۍ هغې ته د دښمنې په سترګه ګوري، هغه رټي، سپکوي یې، پیغورونه ورکوي او په نه خبره یې وهي ټکوي. همدارنګه ډېر ځله داسې نجونې د پلار کور ته نه ور پرېښودل کېږي. دا د نجلۍ پر اروا ډېره بده اغېزه کوي خو دا چې له زغملو پرته بله چاره نه لري، هر څه په پټه خوله زغمي. دغه زغمل په ښځه کې اروایي غوټه جوړوي. وروسته چې د دې ښځې اولادونه زېږي او رالویږي، هغوی هم په اروایي ناروغیو اخته کېږي ځکه چې په کور کې یې هره ورځ له مور سره تاوتریخوالی کېږي. په کور کې خشونت د ماشومانو پر اروا بده اغېزه کوي او دا چې مور پر ماشومانو لا زیاته ګرانه وي، د هغې ځورول په حقیقت کې د ماشومانو پر اروا ګوزارونه دي.
۴. هغه ښځه چې په اروایي لحاظ روغه نه وي، د خپلو ماشومانو پالنه په سمه توګه نه شي کولی له بلې خوا کېدای شي له اولادونو سره یې هم تبعیض وشي. نو ډېر احتمال شته چې اولادونه یې په جسمي، ذهني او اروایي لحاظ روغ پاتې نه شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵. پر مېړه د زوجې په غیر مالي حقونو کې ښه سلوک، نه ځورول، له مور او پلار او محرمو خپلوانو سره د لیده کاته اجازه شامل دي [۳] خو کله چې نجلۍ په بد کې ورکول کېږي، اکثراً دغه شرعي حقونه یې نه مراعاتېږي. په هغه ګزارش کې چې د «Woman Kind» موسسې په ۲۰۰۸ کې خپور کړی، د افغانستان ۸۰ سلنه ښځې له کورني تاوتریخوالي څخه ځورېږي او ۶۰ سلنه ودونه اجباري دي. [۳] ښکاره ده چې په دې ډله کې په بد کې د ورکړل شویو نجونو حالت به لا زیات خراب وي.
۶. عام باور خو دا دی چې په بد کې د نجلۍ په ورکولو سره د لا زیاتو بدیو او زیاتو مرګونو مخه نیول کېږي خو په عمل کې دا کار په نامستقیمه توګه قتلونه زیاتوي. دا ځکه چې قاتل هېڅ سزا نه ګالي بلکې د جرم سزا یې هغه څوک ګالي چې پخپله بېګناه ده. نو کله چې نران ویني چې دوی ته څوک جزا نه ورکوي، په آسانۍ سره بیا هم انسان وژني. همدارنګه نوي نسلونه د دې حالت په لیدو سره، قتل و قتال ته زړه ښه کوي او په معمولي لانجه هم ماشې ته ګوته وروړي ځکه پوهېږي چې د ژغورنې لاره لري.

پایله

په بد کې د نجونو ورکول شرعي، حقوقي او قانوني جواز نه لري. په دې کار سره نجلۍ له ځینو اساسي حقونو څخه محرومېږي. دا کار نجونو ته اروایي، ټولنیز او بدني زیانونه رسوي او دغه زیانونه د هغې پر اولاد هم اغېز کوي. د هغه څه پر خلاف چې ویل کېږي دا کار بدۍ او دښمنۍ کموي، کېدای شي د جنایت د تداوم له پاره لاره هواره کړي. له دې کار سره د ټولنې نرانو ته دا فکر پیدا کېږي چې که قتل هم وکړي، د تېښتې لاره ورته شته او بې له دې چې جزا وګالي، خپل ژوند به کوي. دغه فکر نوي نسلونه قتلونو ته هڅوي او د مرګونو لړۍ همداسې جاري ساتي.

وړاندیزونه

۱. قومي مشران، سپین ږیري او دیني عالمان باید په بد کې د نجونو د ورکولو زیانونه درک کړي او مخه یې ونیسي. د دې کار له پاره باید د عامه پوهاوۍ کمپاینونه وشي.
۲. رسنۍ دې په دې اړه خلکو ته معلومات ورکړي او د مسألې شرعي، حقوقي او انساني اړخونه ورته روښانه کړي. همدارنګه له کارپوهانو سره د مرکو له لارې دې د دې کار زیانونه ور وښیي.
۳. لیکوال او هنرمندان کولی شي د خپلو داستانونو، شعرونو، موسیقۍ، نقاشۍ، تیاتر او نورو هنرونو په وسیله ولس ته دا پیغام ورکړي چې هره نجلۍ د هر چا په شان غواړي ښه او خوشحاله ژوند ولري او کله چې په بد کې ورکول کېږي، دغه مشروع هیله یې له خاورو سره خاورې کېږي.
۴. د افغانستان د اساسي قانون ۵۴ ماده وایي: دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو له پاره لازم تدبیرونه نیسي. [۴] دا چې په بد کې د نجونو ورکول، شرعي او قانوني جواز نه لري نو دولت د اساسي قانون له مخې مکلف دی چې مخه یې ونیسي.

مأخذونه:

۱. پژواک، عبدالرحمن، تعاملات حقوقیه و جزاییه ملی، افغان مسلکي مطبعه، کابل ۲۰۱۱، صفحه ۱۳، ۲۷، ۲۸.
۲. دانش، سرور، حقوق اساسی افغانستان (چاپ دوم)، موسسه تحصیلات عالی ابن سینا، انتشارات امیری، کابل ۱۳۹۱، صفحه ۲۲۶
۳. عدالتخواه، پوهندوی عبدالقادر، حقوق فامیل، پوهنتون کابل، انتشارات میوند، کابل ۱۳۸۷، صفحه ۷۴-۷۱
۴. مجموعه کامل قوانین اساسی افغانستان، ریاست نشرات وزارت عدلیه، چاپ اول ۱۳۸۶، صفحه ۵۰۷، ۵۲۲

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ